# شمالي وزیرستان؛ افغانستان ته د خوارجو د تېښتې هڅه ناکامه کړل شوی دوه تنه وسله وال ترهګر ووژل شوی او دوه تنه نور ټپیان دی

دشمالي وزیرستان په سرحدي سیمه بانګدار کې امنیتي ځواکونو دترهګرو تحرکات په وخت پېژندلي اؤ افغانستان ته یې دهغوي دتیښتې هڅه ناکامه کړې ده- د امنیتي ځواکونو په بریالیو عملیاتو کې دوه خوارج وژل شوی او ګڼ شمېر نور ټپیان شوي دي-

**د تفصیلاتو ترمخه د فرورۍ په 12 مه نیټه په پاك افغان پوله بانګدار کښې تعینات سیکورټي اهلکارو د 6 نه تر 7ؤ ترهګرو د نقل و حرکت هغه مهال یې په نښه کړل کله چې دوي افغانستان ته د تیښتې هڅه کوله- د عملیاتو په پایله کې دوه خوارج جهنم ته استول شوی-**





**د باوري سرچینو د معلوماتو له مخې دواړه وژل شوي ترهګر افغانان دي چې د عابد زدران او حمزه سلطان خیل په نومونو تایید شوي دي- وژل شوي ترهګر له تي تي پي سره تړاو درلود او په پاکستان کې یې په ګڼو ترهګریزو فعالیتونو کې لاس درلود-**

د شمالي وزیرستان سره نزدې په سرحدي سیمو کې ګمارل شوي امنیتي ځواکونه د پاکستان او افغانستان پولې ته نزدې څارنه کوي او د ترهګرو د نقل و حرکت سخته نګرانی کیږی او په نښه کیږي- انشاءالله خوارجو ته به د تېښتې اجازه ورنکړل شي او د هغوی بد انجام ته د رسولو لړۍ به دوام ولري-